(عصر کی اذان)

جناب سردار حسین (چترالی): میڈم سپیکر! افواج پاکستان نے اپنا کام کیا اور کر رہی ہے، پولیس والوں نے قربانیاں دیں۔ آج بیلجیئم کے اندر دھماکہ ہوا اور ان کا سارا سسٹم رکا اور ساری قوم سوچ رہی ہے، ہماری بے حسی کی انتہا یہ ہے کہ اگر قصہ خوانی میں بم پھٹتا ہے، صرف دس منٹ کے بعد دوبارہ ریڑھی لگا کر کام شروع ہو جاتا ہے، ہم بھول جاتے ہیں، ایک دفعہ اخبار میں یا دوسرے دن کے اخبار میں چھوٹی سی ایک خبر آجاتی ہے کہ ہاں جی پچاس بندے مرے ہیں، تیس بندے مرے ہیں لیکن پھر نہیں سوچا جاتا کہ کیا کیا جائے؟ اس دہشت گردی میں جب ہم شریک نہیں ہوں گے تو یہ دہشت گردی نہیں ہوسکتی، یہ دہشت گرد جب آجاتے ہیں تو کہیں نہ کہیں یہ ٹھہر جاتے ہیں، کہیں نہ کہیں یہ Camouflage کرتے ہیں، کہیں نہ کہیں ان کو ٹھکانہ ملتا ہے، کہیں رکشے کو استعمال کرتے ہیں، ٹیکسی کو استعمال کرتے ہیں۔ سب سے زیادہ اہم بات

یہ ہے، ضروری بات یہ ہے کہ ہم مائنڈ سیٹ کو چیلنج کریں، مائنڈ سیٹ کو ہم امن کی طرف لائیں، خیبر پختونخوا کے اندر ہم نے اس پہ کام نہیں کیا۔ دوسری بات یہ ہے کہ مایوسیوں سے یہ چیزیں جنم لیتی ہیں، آپ کے سوات کے اندر جب طالبان آئے تو سارے لوگ کیوں شامل ہوگئے؟ عوام اس لئے شامل ہوئے کہ عدالتوں میں ان کے کیسز تیس تیس سالوں سے پڑے تھے، ایک بندے نے گاؤں میں آکر دس منٹ میں فیصلہ دیناشروع کیا، یہ کس کی غلطی تھی؟ جب وہاں پہ ناانصافیاں ہوئیں، آج بھی خیبر پختونخواکے اندر ہم بار بار کہتے ہیں کہ یہ دہشت زدہ صوبہ ہے، اس نے تکلیفیں اٹھائی ہیں، ہم نے چھوٹے چھوٹے بچے اپنی گود میں لے جاکر کونوں میں دفنائے اور یونیورسٹی سے اٹھاکر ہم نے بچوں کو دفنایا لیکن مجھے یہ بتادیں کہ اے پی ایس کے بعد فیڈرل گورنمنٹ کی طرف سے جو کہ ہم پاکستان کی جنگ لڑرہے ہیں، خیبر پختونخوا میں کتنے پیسے آئے، ان بچوں کے ساتھ کیا مدد ہوئی؟ اگر باچا خان یونیورسٹی میں یہ واقعہ ہوا تو اس کے بعد تو تین اور یونیورسٹیاں کھولنی چاہیے تھیں کہ ہاں جی، اگر آپ ایک یونیورسٹی کے خلاف ہیں تو پانچ یونیورسٹیاں ہم کھولیں گے لیکن اگلے دن ہم سوگئے، بیٹھ گئے اور ساتھ ہی فیڈرل گورنمنٹ میں کچھ بھی ہوتا ہے، اس سے لاعلمی، آرام سے بیٹھے ہوئے ہیں، چاہیے تو یہ تھا، چین سے بھی مدد آتی ہے تو پنجاب، کہیں اور سے بھی مدد آتی ہے تو پنجاب، خیبر پختونخوا کو مکمل طور پر مرکزی حکومت بھول چکی ہے، پتہ نہیں یہاں کے عوام کو کس بات کی سزادے رہی ہے؟ اس لئے میری ریکویسٹ یہ ہے کہ حکومت کو باقاعدہ طور پر مختلف محلوں کو محفوظ کرنے کیلئے، سکولوں کو محفوظ کرنے کیلئے، ان انسٹیٹیوشنز کو محفوظ کرنے کیلئے، اس بارڈر کو محفوظ کرنے کیلئے ٹھیک ٹھاک طریقے سے اربوں روپے فیڈرل گورنمنٹ کو خیبر پختونخوا کی حکومت کو دینے ہوں گے تاکہ ہم آگے بڑھ سکیں۔ ہمارا اپنا حق، اپنا ہی بجٹ اگر ہمیں نہ ملا، غربت سے غربت کی طرف گئے، ہمیں اگر اے ڈی پی میں کٹ لگاناپڑے تو پھر دہشت گردی زیادہ ہوگی یا کم ہوگی؟ یہی میری ریکویسٹ ہے۔ تھینک یو ویری مچ۔

<u>Madam Deputy Speaker:</u> Thank you. We will break for the prayer and after the prayer we will re-start again; we will re- assemble at 5:30, okay, thank you.

(اجلاس کی کارروائی نماز عصر کیلئے ملتوی ہوگئی)

(وقفہ کے محترمہ ڈپٹی سپیکر مسند صدارت پر متمکن ہوئیں)

محترمہ ڈپٹی سپیکر: بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ I think, قومی وطن پارٹی جو ہے، وہ رہ گئی ہے، باقی ساری پارٹیز ہو گئیں تو I request Barrister Sultan, please take only five minutes, okay.

جناب سلطان محمد خان: تھینک یو میډم سپیکر۔ زه ستاسو ډیره شکریه ادا کوم چې ما له مو موقع را کړه چې نن په دې اهم ایشو باندې او بلکه که زه دا ووایم چې د دې صوبې او د دې ملک د ټولو نه اهم ایشو چې کومه ده، په هغې باندې تاسو ما له موقع را کوې چې زما څه Views دې، هغه On the floor of the House زه پیش کړم۔ میډم! زه به کوشش کوم چې تاسو کوم Directions را کړل، پینځه منټه، په هغې کښې زه خپله خبره راغونډه کړم خو تاسو ته به خواست وی که لږ ډیر پکښې مخکښې شم نو تاسو به راسره ګزاره کوئ۔ میډم سپیکر! دا ایشو چې کومه ده نو زما په خیال که دلته مونږ په دې پوائنټ سکورنګ شروع کړو، اپوزیشن والا خپل پوائنټ سکورنګ شروع کړو او مونږ د ټریژری ممبرز خپل پوائنټ سکورنګ شروع کړو نو دا مونږ ځان سره زیاتے کوؤ لګیا یو او د ځان نه زیات بیا مونږ د دې صوبې د خلقو سره، د دې هاؤس چې کومه Dignity ده او د دې ایشو چې کوم Importance دے، مونږ خپل هغه فرض چې دے په صحیح معنو کښې هغه مونږه سرته نه رسوؤ لګیا یو۔ میډم سپیکر! Because I am a treasury member نو کیدې شی ما نه دا طمع ساتلې کیږی چې I will defend the government خو دا ایشو داسې ده میډم! چې څو پورې مونږ Sincerely یو اوپن ډسکشن په دې باندې هاؤس کښې دننه نه وی کړے او تجاویز نه وی راغلی، د دې چې کوم اثرات دی، په هغې باندې بحث نه وی شوے او د دې چې کوم وجوهات دی او د ټولو نه Important زه دلته ګورم چې ډیر ښه Speeches کیږی خو زما په خیال چې Recommendations هم ورکول پکار دی، چې مونږه څه Recommendations د دې هاؤس نه لیږو، میډم سپیکر! جمهوری دور دے او اکثر زمونږ دا یوه ګیله پیدا کیږی چې په پاکستان کښې جمهوری دور چې کوم دے نو هغه مخکښې نه ځی او هغې له تسلسل نه ورکولے کیږی خو مونږه د د ځان نه هم تپوس اوکړو چې مونږ عوامی نمائندګان په داسې Respectable House کښې ناست یو، په داسې ښه ښه پوسټونو باندې مونږ

کله ناست یو، زمونږ فیصلې څنګه دی، زمونږ ریسرچ څومره دے، مونږ خپل هغه کار په څومره ښه طریقه سره کوؤ؟ نو آیا بیا ګیله مونږ له د ځان نه پکار ده او که نه ګیله مونږ له د نورو خلقو نه پکار ده چې کله مونږه د عوامو په سترګو کښې Discredit شو؟ میډم سپیکر! مونږ د دهشتګردئ څنګه چې بابک صاحب خبره اوکړه، دا ننښئ خبره نه ده، دا د ډیر وخت نه دا سې یو عمل دے چې دا شروع دے او مونږ به هغه خبرې هم کوؤ چې هغه زمونږ د دې هاؤس او د دې صوبائی حکومت او د دې صوبې د حده پورې زمونږ د کنټرول نه بهر دی خو زما په خیال مونږ له زیاته توجه په دې راؤړل پکار دی چې بجائے د دې چې مونږ دا اووایو چې د افغانستان پالیسی ټهیک نه ده او پکار ده چې مونږه دا اووایو که ټهیک نه وی، مونږ دا اووایو چې په فاټا کښې دا کیږی لګیا دی او مونږ د اووایو چې فاټا کښې دا څه روان دی خو مونږ له دا پکار دی چې مونږ د دې هاؤس څه اختیارات دی، د دې صوبائی حکومت څه اختیارات دی، د دې صوبائی کابینې څه اختیارات دی، مونږ د هغې اړخ ته لاړ شو۔ میډم سپیکر! وروستو ورځو کښې که تاسو کتلی وی، مونږ داسې خبرې اؤرو چې یو اړخ ته خو صوبې کښې دا کوم واقعات چې اوشو، د باچا خان یونیورسټئ چې کوم واقعه اوشوه، بیا د شبقدر په کورټس چې کومه واقعه اوشوه، د هغې نه پس دلته په سیکرټریټ یا پېښور ته چې کوم بس راتلو، په هغې ملازمینو چې کومه هغې کښې دهماکه اوشوه، په هغې بس کښې، یو اړخ ته خو په دې باندې د عوامو ډیر زیات تشویش دے چې دا څه کیږی لګیا دی، بل اړخ ته مونږ دا ګورو چې ضرب عضب آپریشن شروع دے او زه آن دی فلور آف دی هاؤس سلام پیش کوم د پاکستان چې کوم آرمی ده، د پاکستان د آرمی چې کوم افسران دی، د پاکستان د آرمی چې کوم ځوانان دی او بیا د هغې نه پس زه سلام هم پیش کوم د پولیس او د Law Enforcement Agencies چې کوم افسران دی او کوم ځوانان دی، زه هغوی ته سلام پیش کوم چې ضرب عضب آپریشن کوم شروع دے، په ټول ملک کښې د هغې ډیر ښه اثرات راروانیدو والا وو او راغلی هم وو خو بل اړخ ته مونږدا خبرې اؤرو لګیا یو چې ایډیشنل چیف سیکرټری صاحب چې کوم دے نو یو خط اولیکلو او مونږ ته دا پته اولګیده چې نن سبا په بیوروکریسی کښې او د پولیس

ترمینځه یو Tussle روان دے ، چې یو نوے پولیس ایکټ جوړېږی لګیا دے او بجائے د دې چې مونږ په دې توجه راؤړو چې مونږ د امن و امان دا صورتحال ټھیک کړو نو مونږ خپلو کښې دا Tussle کوؤ چې اختیارات د زما زیات شی او زه ستا د لاندې کار اوکړم او که نه زما لاندې به ته کار کوې، دا ډیره د افسوس خبره ده میډم سپیکر! بل اړخ ته مونږه دا اوګورو نو هم دې اسمبلئ یو قانون پاس کړے دے ، "Khyber Pakhtunkhwa Sensitive and Vulnerable Establishments And Places Security Act, 2015"، مونږه هم د دې اسمبلئ حصه وو، چې کله دا ایکټ پاس کیدو خو مونږ دا ټول هر څه پریښی دی او مونږ په دې یو ایکټ پسې اوس راخستې ده چې د سکول د پرنسپلانو، هیډ ماسټرانو او استاذان په دوئ باندې ایف آئی آرې اوکړئ او د یونیورسټئ په وائس چانسلرانو باندې ایف آئی آرې اوکړئ، آیا زمونږ حالات به په دې ټھیک کیږی چې مونږ دا تعلیمی ادارې راټینګې کړو یا عام خلق، آئین څه وائی، آئین پاکستان څه وائی؟ آن ریکارډ زمونږ پارټی د دې ایکټ مخالفت هم کړے وو په دې اسمبلئ کښې چې کله دا پاس کیدو، آئین پاکستان دا وائی چې پاکستان کښې د ننه چې کوم کوم شهری اوسیږی، د هغه د حفاظت ذمه واری او دا د دنیا په هر ځائې کښې دا قانون دے او هر ځائې کښې دا یو Principle دے او دا یو رول دے چې د یو شهری حفاظت چې کوم دے ، د هغې ملک ، د هغې سټیټ به کوی، نو مونږ ورته دا اووئیل چې بس ځان ته کیمرې هم اولګوه او ځان له ټوپک هم راواخله او خپل حفاظت اوکړه او د پاسه مو ورته بیا دا اووئیل که خپل حفاظت د اونکړو نو بیا به مونږ تا جرمانه کوؤ او بیا به مونږ تا جیل ته هم اچوؤ او تا به مونږ Prosecute کوؤ هم بیا ، میډم سپیکر! دا د کوم ځائې قانون دے ؟ دا دنیا به مونږ پورې خاندی نه؟ دا د دنیا په کوم قانون کښې او په کوم اصول کښې دا راغلی دی چې د یو ملک چې یو عام شهری دے ، هغه غریب د دهشتګردئ ښکار هم دے او بل اړخ ته چې کوم دے ته وائې چې زه به جیل کښې هم تا اچوم او زه به د جرمانه کومه هم، که چرې تا د خپل ځان حفاظت اونکړو، دا د افسوس خبره ده میډم سپیکر! زما د دې فلور آف دی هاؤس، زما خیال دے دا ممبران صاحبان زما Colleagues به ټول زما سره په دیکښې Agree کوی چې

زور په دې مه راؤړه چې خپل شهری او خپل Citizens ته Prosecute کړه، زور په دې راؤړه چې هغه دهشتگرد رااونیسه، هغه دهشتگردی ختمه کړه، په دې باندې زور نه دے پکار چې خپل شهری ته Prosecute کړه۔ (تالیاں) میډم سپیکر! مونږ له داسې طریقه کار پکار دے چې تش په دیوالونو اوچتولو باندې او کانټا تار لګولو باندې او د چریز ټوپک په ځائې کلاشنکوف چې د هغې هغه طریقه هم هغه څوکیدار له بیا نه ورځی، په دغې مونږ خپل د تعلیمی ادارو حفاظت نشو کولے، دا ټول د انټیلی جنس او د Pre-emptive چې کوم تدابیر دی، په هغې به مونږ دا قسمه واقعات اودروؤ، زما آن دی فلور آف دی هاؤس دا یو ریکویسټ دے چې د پولیس چې څه ضرورتونه دی، مونږه خو د پولیس نه ډیر څه غواړو، پولیس له مونږ څه ورکړی دی؟ ټهیک شوه چې مونږ مین پاور زیات کړے دے، په 2008 ء کښې مونږ سره تقریباً چالیس هزار مین پاور وو د پولیس، په دې وخت کښې تقریباً نوے هزار ته ورنزدے شوے دے، په 2008 کښې زمونږ 657 بلین بجټ وو د پولیس، نن چې کوم دے نو هغه 28.53 بلین، 6.57 بلین، اوس 28.53 بلین دے، اربه روپئ دی خو د دې بجټ مونږ په فلور آف دی هاؤس دا هم دریافت کول غواړو چې د دې بجټ چې دا دومره زیات شو، پولیس سټیشن باندې یا په پولیس سټیشن چې کوم سهولتونه دی، زه خو وایم میډم سپیکر! چې کوم د پیټرولو هغه خرچه ده په دې موبائل، د پولیس د موبائل، په دغې کارونو باندې د دې بجټ څومره حصه اولګیده؟ مونږه له د دا جواب په دے هاؤس کښې راکړے شی۔ چې کوم Anti terrorism Act د 1997ء شیډول فور دے میډم سپیکر! هغه تاسو په پولیس باندې دا قدغن لګوئ چې د کومې علاقې ایس ایچ او دے نو هغه به یو سرټیفیکیټ پیش کوی چې په دې علاقې کښې د Prescribed، پابندی چې کومو ادارو باندې، په کوم آرګنائزیشنز باندې لګیدلې ده، د هغوی یو لسټ به هغوی ورکوی، په هغې باندې څومره عمل درآمد کیږی لګیا دے، هغه څو ځله هغه Revise شوے دے، په هغې کښې څومره Revision شوے دے؟ میډم سپیکر! مونږ له به چې دلته کوم زمونږ دغه دهشت ګردی چې کیږی او Local facilitators and arbiters دی چې لوکل سطح باندې امداد کوی، ورله ځائې ورکوی، ورله ټرانسپورټ ورکوی، ورله

نور سهولتونه ورکوی، د هغوی د نیولو د پاره مونږ څومره اقدامات کوو لګیا یو، آیا دغه به صحیح طریقه وی د دې دهشت ګردئ د اودرولو او که نه د استاذانو د ایف آئی آر په هغوی باندې کولو به صحیح طریقه وی؟ میډم سپیکر! د باچا خان یونیورسټی واقعه اوشوه، یو درې رکنی یوه کمیټی جوړه شوه چې دا به د دې واقعې انکوائری کوی، میډم سپیکر! د دې واقعې د ټولو نه غټه ذمه واری آیا په پولیس باندې نه وه؟ نو د هغې د کمیټئ ممبر زمونږ د مردان رینج چې چارسده ضلع په مردان رینج کښې راځی، د مردان رینج ډی آئی جی صاحب چې کوم دے هغه دے، مونږ په دغې انکوائری کمیټئ کښې واچولو نو هغه به څه فیصله ورکوی کوم چې دا کار اوشو؟ د پولیس پکښې هم څه نه څه غفلت شامل وو، ټول غفلت به نه وو، څه پوره حصه به پکښې نه وه خو څه حصه د پولیس هم وه، چرې به د خپل فورس خلاف هغه خپل دا انکوائری کمیټی کښې Comments ورکړے شی یا به هغه اومنی؟ میډم سپیکر! دا خو یو اړخ ته زیاتے دے چې یو اړخ ته یو تعلیمی اداره ده، په هغې باندې حمله کیږی او په هغې چې کوم دے نو کوم استاذان یا وائس چانسلر چې دے هغه د دې د پاره، هغه څه د پولیس ټریننګ نه دے حاصل کړے، هغه څه د سیکورټی ایکسپرټ نه دے، نه ټوله ذمه واری راوړے او په هغوی باندې ایږدې۔ میډم سپیکر! مونږ خپل تعلیم خرابوؤ لګیا یو په دې باندې، دا د وائس چانسلرانو کار نه دے، دا د استاذانو کار نه دے، دا د تعلیمی ادارو د ایډمنسټریشن کار نه دے، هغوی خو به څه خپل لږ ډیر اقدامات واخلی، دا چې نور څومره کار دے، دا د حکومت کار دے۔ میډم سپیکر! په 9 فروری 2016 باندې حاجی حلیم جان چې یو تاجر لیډر وو د دې پیښور، هغه شهید کړے شو، د هغه ځامن نن هم دا وائی چې دا د څومره مودې مونږه ته ټیلی فون کالونه راروان وو، دا د هغه ځامن دا دعویٰ کوی لګیا دی چې مونږ دا د پولیس نالج کښې دا خبره راوستې وه۔ میډم سپیکر! چې ټیلی فون سرعام کیږی او زما په خیال چې هر چا ته کیږی لګیا دے، هر یو طبقې ته ټیلی فون کیږی چې لګې ډیرې، دوه څلور روپئ چاته پته اولګی چې ورسره زیاتی راغلی دی، ماښام ورپسې ټیلی فون راغلے وی چې دومره دومره کروړه ته راوړه۔ نو میډم سپیکر! بیا د پولیس په نالج کښې دا خبره را هم شی، دهغې نه

پس هم څه اقدامات اونشی او حلیم جان خو د تاجرانو مشر وو، د هغه خو ځکه په میډیا باندې هر څه راغلل. دا څومره Target killings اوشو، داسې څومره چې کوم دےExtortions او بهته خوری چې کومه روانه ده، دا څومره عجیبه صورتحال دے میډم سپیکر. میډم سپیکر! زه خپل څه تجاویز ورکول غواړم چې داسې واقعات اودریږی، تش په تقریرونو باندې او پوائنټ سکورننګ باندې، څه ایشوز میډم سپیکر! داسې وی چې هغه د سیاست نه بالاتر وی، هغې کښې مونږ له سیاست نه دی کول پکار او نیشنل سیکورټی یا لاءاینډ آرډر چې کوم دے، هغه یو داسې ایشو ده چې د ټولو نه زیاته، په دې چرې هم سیاست نه دے پکار، نو زه خپل یو څو تجاویز ورکوم میډم سپیکر! یو خو د په دې باندې کوشش اوکړے شی، د دې هاؤس نه یو میسج صوبائی حکومت او بیا د صوبائی حکومت چې پولیس یو ډیپارټمنټ دے او چې کوم لاء انفورسمنټ ایجنسیانې دی، هغوی ته دا یو میسج لاړ شی چې تاسو زیاته توجه په Prevention باندې راؤړئ چې داسې واقعات اودریږی. Intelligence، داسې خبرونه هم راغلی دی، Written intelligence letters راغلی دی چې داسې واقعه کیدو والا ده، بیا هم هغه واقعه اوشی، پکار دا ده چې دا Intelligence sharing صحیح طریقې سره کیږی او د هغې په نتیجه کښې بیا داسې اقدامات واخستې شی چې دا واقعات بیا نه کیږی. دویم میډم سپیکر! بدقسمتئ نه چې کله داسې یو واقعه او هم شی نو ړومبے Step چې کوم دے نو هغه Investigation راځی، میډم سپیکر! زه تاسو له یو فکر درکوم، ما سره تازه فګر نشته خو زه درله د 2012ء یو فګر میډم سپیکر! درکوم، که اوس دا بنه شوی وی نو مونږ ته د اووئیلې شی. په 2012ء کښې تقریباً ایک سو پچاس هزار، One hundred and fifty thousand FIRs چې دی، دا زمونږ په دې صوبه کښې رجسټرډ شوی وو او په 2012ء کښې زمونږ چې کوم د Investigation د پاره بجټ وو میډم سپیکر! هغه وو 41.896 ملین، اوس میډم سپیکر! چې دا FIR، دا کیسونه او دا کوم بجټ چې د Investigation د پاره دے، دا تاسو تقسیم کړئ نو یو یو کیس د پاره مونږ سره 283 روپئ جوړیږی. اوس چې په یو کیس د پاره مونږ سره د دریو سوؤ نه هم کمې روپئ وی چې په هغې دا Investigation مونږ کوؤ، میډم سپیکر! زما په خیال

چې هغه پولیس والا چې د خپلې تهانړې نه راواوځي او بهر پرې ځان له لګې چنړې واخلي چې هله هغه ځائې پورې رسو چې لږ خو هم دا مازغه کار کوی نو هغه چنړې به هم په دغه درې سوه روپئ باندې اونشي۔ مونږ بیا دا وایو چې Forensics کوم دی، میډم سپیکر! په یو Forensics Test باندې زما چې څومره علم دے، پینځه زره روپئ پرې لګی نو په درې سوه روپئ کښې به ته Forensic Test کوې او که نه ځان به په موبائل کښې هغې Spot پورې رسوې او که نه Investigation به کوې؟ میډم سپیکر! د دې د پاره د اقدامات اوشی، که شوې وی نو ښه خبره به وی، نور د هم دا Improve شی، بلکه بجټ راروان دے، اے ډی پی خو زمونږ د ټولو شوق وی چې اے ډی پی کښې د زمونږ سکیمونه راشی خو پکار دا ده چې کوم دا بجټ راروان دے چې د دې خبرو د پاره پکښې هم پیسې کښیودلې شی هله به داسې واقعات اودریږی۔ میډم سپیکر! د هغې نه پس د پراسیکیوشن مرحله راځی، چې Investigation complete شو اوس به پراسیکیوشن کوؤ چې دا ملزم چې دے، دا عدالت ورته مجرم وائی، مونږ د عدالتونو نه د همیشه د پاره دا یو ګیله کوؤ چې عدالتونو ته ملزم اورسی نو هغلته کښې هغوی بیا راخلاص شی خو میډم سپیکر! چې Investigation صحیح نه دے شوے، تا خپل تفتیش صحیح نه دے کړے تا خپل کیس ټهیک نه دے جوړ کړے نو بیا مونږ ولې د عدالت نه دا طمع ساتو چې هغوی به هغه Convict کړی۔ میډم سپیکر! دا راروان بجټ کښې د دې څیزونو د پاره خاطر خواه څه Improvements راغلی هم دی، مونږ په میډیا کښې ګورو چې ټریننګز شول، جوړ شو، Forensics کښې څه شوے دے، څه څیزونه داسې شوی هم دی خو میډم سپیکر! دیکښې نور د بهتری ګنجائش ډیر زیات دے، زه خپلې خبرې میډم سپیکر! راغونډوم خو زه دا وئیل غواړم چې دلته دا خبره کیږی چې Political will نشته دے خو زه وایم چې که پولیټیکل لیډرشپ دے، که هغه پولیټیکل ورکر دے، د ټولو نه زیاته قربانی خو دغې کلاس ورکړه، ولې زمونږ د پارټئ دا مشر، آفتاب خان شیرپاؤ، په دوئ باندې دهماکې اونشوې؟ولې دا مولانا صاحب، زمونږ مشر دے، مولانا فضل الرحمان صاحب، په هغوی باندې ولې دهماکې اونشوې؟ ولې د اے این پی په لیډرشپ باندې، د بلور صاحب خبره

بابک صاحب اوکړه او په ورکرانو باندې دهماکې اونشوې؟ دغه شان هره پارټي، هره پارټي چې ده نو دا د هغې نه متاثره شوې ده. زما په خيال دا نه چې صرف زمونږ پوليټيکل ليډر شپ، تشې د مايوسئ خبرې هم نه دی پکار، زه وايم چې نن هم په مونږ باندې حملې هم کيږی لګيا دی، زمونږ ملګری هم شهيدان کيږی لګيا دی، د دې اسمبلئ ممبرانو باندې ولې حملې اونشوې، شهيدان نه شو؟ دا بخت بيدار خان ناست دے، د ده په کور باندې ولې حمله اونشوه، د ده ورونړه پکښې شهيدان نه شو؟ خو نن هم بخت بيدار خان دغه دے اسمبلئ ته هم راروان دے، خپل کارونه هم کوی، د خپلو خلقو خدمت هم کوی، نو تش د مايوسئ خبرې نه دی پکار، ولې زمونږ د پوليس افسران چې کوم دے نو دا شهيدان نه شو، ملک سعد شهيد نه شو؟ صفوت غيور شهيد نه شو، عابد علی شهيد نه شو؟ او څومره ځوانان چې کوم دی د پوليس، هغوی شهيدان نه شو؟ ولې د فوج د جرنيل د ليول نه راواخله تر د سپاهيانو د ليول پورې، دا شهيدان نه شو؟ دا عام خلق چې کوم دی، دا عام د پاکستان په بازارونو کښې، په جماعت کښې، په حجره کښې، په خپل کاروبارونو کښې کوم ناست دی، ولې دا شهيدان نه شو؟ دا ميندې خوئيندې پکښې شهيدانې نه شوې؟ نو ميډم سپيکر! دې نه دا پته لګی چې زمونږ دې قوم کښې جذبه شته، زمونږ دې قوم کښې يو بهادری شته، زمونږ په دې قوم کښې دا يو همت شته دے چې په سختو حالاتو کښې هم دوئ خپل، پوليس خپلې څوکئ نه دی پريښودې، په بل ملک دا شوے وے کيدې شی پوليس خپلې څوکئ پريښودې وې، فوج خپلې څوکئ نه دی پريښودی، يو سپاهی او يو افسر د خپلې څوکئ نه تښتيدلے نه دے. زه سلام پيش کوم داسې پوليس فورس ته او داسې لاء انفورسمنټ ايجنسيانو ته او داسې د پاکستان چې کوم فوج دے، هغوی ته چې په دې سختو حالاتو کښې هغوی خپلې څوکئ نه دی پريښودی خو اوس مونږ ټولو له دا پکار دی چې، ښه دا کوم پريکټيکل اقدامات دی، فاټا د هم Main stream ته راشی، مونږ دا مطالبه هم کوؤ د فيډرل ګورنمنټ نه، کميټيانې ئے ورته جوړې کړې دی، په هغې کار اوکړئ او فاټا Main stream ته راولئ، Curriculum هم ټهيک کړئ، نور هم اقدامات اوکړئ خو زما دا يو ريکويسټ دے چې زمونږ دا صوبې کښې مونږ کوم

اقدامات کولې شو، په هغې کښې د نور لم لیټ اونکړے شی او دا اقدامات د اوکړې شی۔ ان شاء الله دا ټول ممبران به دې حکومت سره ولاړ وی ځکه چې زمونږ د ټولو قومی فریضه ده۔ ستا سو ډیره مهربانی جی۔

(تالیاں)

محترمہ ڈپٹی سپیکر: تھینک یو، بیرسٹر سلطان۔ نیکسٹ خو مفتی فضل غفور صاحب دے، I think he is not here، نو هغې نه پس دے مولانا عصمت الله صاحب، کوشش به اوکړئ چې لږ Time constraint دے مونږ سره نو کوشش به اوکړئ چې لږ ټائم کښې-----

جناب محمد عصمت اللہ: شکریہ، جناب سپیکر صاحب۔ ایک انتہائی اہم مسئلے پر بحث میں آپ نے مجھے حصہ ڈالنے کی عنایت فرمائی، اجازت عنایت فرمائی۔ جناب سپیکر صاحب! امام احمد بن حنبلؒ چار مسالک میں سے ایک مسلک کے امام ہیں، وہ فرماتے ہیں لو کانت لی دعاۃ مستجابۃ لجعلتہا للامام لان فی اصلاحہ اصلاح الرعیۃ و فی فسادہ فساد ھما اگر پوری زندگی میں میرے حصے میں ایک مقبول دعا ہو جاتی تو میں وہ امام کیلئے مختص کر دیتا، حکمران وقت کیلئے میں اس دعا کو مختص کر دیتا، اس کے حق میں وہ دعائیہ کلمات میں ادا کرتا، کیوں؟ وہ فرماتے ہیں لان فی اصلاحہ اصلاح الرعیۃ امام اور حکمران وقت کی اصلاح میں پوری رعیت کی اصلاح ہے، پوری رعیت کا امن وامان ہے و فی فسادہ فسادھما، جب اس میں کوئی گڑ بڑ آجائے، اس کی نیت میں کوئی فرق آجائے تو پھر پوری رعیت میں، پوری قوم میں فساد پھیل جاتا ہے، تو اس لئے میں امام احمد بن حنبلؒ کی تقلید کرتے ہوئے حکمرانان وقت کیلئے یہی دعائیہ کلمات ادا کروں گا کہ اللہ تعالیٰ ان کی اصلاح فرمائے کیونکہ اس میں پھر پوری رعیت کی اصلاح ہے۔ یہاں چند ایک باتیں، میں بین الاقوامی اس پر نہیں جاؤں گا، امن وامان اور ان چیزوں پر میں اس لئے نہیں جاؤں گا کہ چھوٹا منہ اور بڑی بات، یہ مناسب نہیں ہے، میں کوشش کروں گا کہ میں اپنے صوبے کی حد تک محدود رہوں۔ یہاں یہ بات متفقاً علیہ ہے کہ امن وامان قائم کرنا حکومت کا فریضہ ہے اور یہ بات بھی متفقاً علیہ ہے، سب مانتے ہیں کہ اس وقت اس صوبے کا امن وامان کا مسئلہ انتہائی مخدوش ہے، اب اس کا حل کیا ہے، اس کا حل کیا ہے؟ ہم تو بیماریاں گنتے جاتے ہیں کہ اس کو زکام بھی لگا ہوا ہے، اس کو کینسر بھی لگا ہوا ہے، اس کو معدے کی بھی

شکایت ہے، فلاں ہے، فلاں ہے لیکن ہم دوا تجویز نہیں کرتے ہیں کہ اس کیلئے دوا کیا ہے؟ تو سب سے پہلے ہماری کمزوری جو ہے، وہ ہے اللہ تعالیٰ کے احکامات سے روگردانی، ہم اللہ تعالیٰ کے خلیفہ بن کر اللہ کے بندوں پر حکمرانی کا نہیں سوچ رہے ہیں، ہم یہ سوچتے ہیں کہ ہم اللہ کے بندوں پر خود حکمران بن جائیں، یہی سب سے بنیادی خرابی ہے حالانکہ اللہ تبارک و تعالیٰ کا ارشاد ہے الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَوٰةَ وَآتَوُا الزَّكَوٰةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ، جن لوگوں کو میں زمین پر تمکن دے دوں، قدرت دے دوں، حکومت دے دوں تو ان کے فرائض منصبی کیا ہیں؟ تو اللہ تعالیٰ فرماتے ہیں کہ نظام الصلوٰۃ کو قائم کریں گے، نظام زکوٰۃ کو قائم کریں گے اور امر بالمعروف اور نہی عن المنکر کریں گے۔ ہم نے اس کو چھوڑا ہے، دنیا کی مشینری کو اللہ تعالیٰ نے بنایا ہے اور اگر ہم اس مشینری کو چلانا، پرزہ جات سے وہ جو فائدہ، استفادہ ہے، اس کو ہم نہیں جانتے تھے تو اللہ تعالیٰ نے ساتھ ایک گائیڈ بک، ایک کتاب کو بھیجا ہے اور پھر اگر کوئی مشکل مشینری ہمارے اس ملک میں شفٹ ہو جائے تو ساتھ ہی اگر گائیڈ بک پر ہمارے انجنیئر نہ سمجھیں تو ساتھ ہی اس ملک کے انجنیئر بھی آتے ہیں تاکہ وہ ہمارے انجنیئروں کو یہاں سمجھائیں، تو اس گائیڈ بک کو سمجھانے کیلئے اللہ تعالیٰ نے انبیائے کرام کو بھیجا ہے۔ ہم نے اللہ تعالیٰ کے احکامات کو بھی چھوڑا ہے، اللہ تعالیٰ کی بھیجی ہوئی گائیڈ بک کو بھی چھوڑا ہے اور جو گائیڈ بک کو سمجھانے والے انبیائے کرام ہیں، ان کے نقش قدم پر بھی ہم نہیں چل رہے ہیں، تو اب یہ ظاہری بات ہے، ایک گاڑی، ایک مشینری ہے، اس کے بریک کا ایک کام ہے، ایکسیلیٹر کا دوسرا کام ہے، تو اگر ہم بریک کے بجائے ایکسیلیٹر کو دبائیں اور ایکسیلیٹر کے بجائے بریک کو دبائیں تو خواہ مخواہ ایکسیڈنٹ ہوگا، تو اس لئے سب سے بنیادی بات یہ ہے کہ ہم یہ سوچیں کہ ہم اللہ کی مخلوق ہیں اور ہمارا آئین بھی ہمیں یہی درس دیتا ہے کہ حاکمیت اعلیٰ اللہ تعالیٰ کی ہے، اللہ تعالیٰ ہی حاکم مطلق ہے اور پاکستان کے جمہور کو جو اختیار اور اقتدار ملا ہے، وہ اس کو یعنی اللہ تعالیٰ کی مقرر کردہ حدود کے اندر رہتے ہوئے استعمال کریں گے۔ ہم نے اس سوچ کو پس پشت ڈالا ہے تو اس لئے ایکسیڈنٹ تو ہونا ہے، امن و امان تو خراب ہونا ہے۔ ایک بات، دوسری بات یہ ہے کہ۔۔۔۔

(شور)

محترمہ ڈپٹی سپیکر: I think کہ یہ بات ٹھیک ہے کہ ٹریژری بنچز سے کوئی بھی نہیں بولا تو آپ پلیز Conclude کر دیں، I will give you two minutes, two minutes, let`s give him two minutes more.

جناب محمد عصمت اللہ: میں تو ختم کرتا ہوں۔ دوسری بات یہ ہے کہ عدل و انصاف کا فقدان ہے، عدل و انصاف کا فقدان ہے، یہ بھی امن وامان خراب ہونے کا بہت بڑا عنصر ہے کیونکہ کہتے ہیں کہ کفر کی حکومت تو چل سکتی ہے جس میں عدل وانصاف ہو مگر ظلم کی حکومت دیر پا نہیں ہو سکتی ہے اور تیسری بات، اسی کی روشنی میں ہمارے جو وزراء ہیں، ان کے حلف نامے میں ایک بات ہے، وہ بات یہ ہے کہ اس صوبے میں رہنے والوں میں بلا رغبت و عناد ایک لفظ ہے کہ اس کے باسیوں میں کسی کے ساتھ نہ میں زیادہ رغبت رکھوں گا اور نہ کسی کے ساتھ عناد رکھوں گا، اور اس کی بھی مسلسل خلاف ورزی ہو رہی ہے، تو میں کہتا ہوں کہ اگر ہماری جو کابینہ ہے، وزراء ہیں، حکومتی اراکین ہیں، وہ اگر اس حلف نامے کو سامنے رکھیں، دفتر میں بیٹھتے ہوئے کہ میں نے وہاں حلف اٹھایا ہے کہ بلا رغبت و عناد نہ کسی خطے کے ساتھ میری زیادہ رغبت ہوگی، نہ عناد ہوگا، نہ کسی شہری کے ساتھ، شخص کے ساتھ میری رغبت ہوگی، نہ عناد ہوگا، لہٰذا امن وامان بالکل ٹھیک ٹھاک ہوگا اور تیسری بات یہ ہے کہ قول و فعل میں تضاد کو ہم چھوڑیں، یہاں میں بات یہ کرتا ہوں ورنہ میں اس وقت آپ یقین کریں میں صرف اتنا کہوں گا کہ امن وامان کا مسئلہ ایسا ہے کہ میں خود ایک صوبائی اسمبلی کا ممبر ہوتے ہوئے میں اپنے حلقے میں اٹھارہ دن محصور رہا ہوں اور پھر میں وہاں سے نکلا ہوں تو جو سرکاری روڈ تھا، اس پر میں نہیں نکل سکا ہوں، میں دوسرے پہاڑی راستے سے چھپ کر وہاں سے نکلا ہوں، اس کو ہم امن وامان، ایک صوبائی ممبر اپنے حلقے سے نہ نکل سکے اور وہ کس پر، میں سرکاری روڈ پر نہیں جا سکتا ہوں، اس قسم کے حالات ہیں اور وہاں ہمارے جو سرکاری آفیسرز ہیں، ہم کہتے ہیں کہ ہم نے پولیس کو سیاسی مداخلت سے آزاد کیا ہے، وہ 'اوکے' کی رپورٹ دے رہے ہیں اور اس وقت بھی میرے حلقے کے لوگ سرکاری روڈ پر کانوائے میں جا رہے ہیں، آگے پولیس کی گاڑی، پیچھے پولیس کی گاڑی، یہاں تو آپ لوگ، یہ جو کانوائے بنا رہے ہیں، یہ تو دہشت گردوں سے بچنے کیلئے بنا رہے ہیں اور وہ دہشت گرد تو گمنام ہیں، پتہ بھی نہیں چلتا ہے۔ تو اس لئے میری درخواست ہوگی، حکمرانان وقت سے جن کے ہاتھ میں اللہ تعالیٰ نے زمام اقتدار دیا ہے، یہ اقتدار بھی آنی جانی چیز ہے کہ آپ نے اس کو مثالی بنانے کیلئے

اپنے اس حلف کو یاد رکھیں_ بلا رغبت و عناد، بلا رغبت و عناد۔ وآخِرُالدَعْوَانا أَنِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ۔

<u>Madam Deputy Speaker</u>: Thank you, Maullana Sahib. From the treasury benches, Muzaffar Said Sahib, please conclude.

<u>جناب مظفر سید(وزیر خزانہ)</u>: اَعُوذُ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيۡطَـٰنِ ٱلرَّجِيمِ۔ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ میډم سپیکر صاحبه، قابل احترام اراکین پارلیمنټ! په دې موقع باندې زمونږ د اپوزیشن لیډر حضرت مولانا لطف الرحمان صاحب او د هغې نه وروستو د اے این پی زمونږ پارلیمانی لیډر سردار بابک صاحب، د هغې نه وروستو نلوټها صاحب او بیا زمونږ سلطان صاحب، د چترال سردار صاحب، بیرسټر سلطان صاحب او د هغې نه وروستو زمونږ مولانا عصمت الله صاحب خبرې اوکړې او د ټولو خبرو لب لباب په صوبه د موجوده امن و امان په حواله باندې خپل ویوز، او خپلې خبرې ډیرې په تفصیل سره اوکړې او بیا په دې ټولو خبرو کښې هغوی ګیله هم اوکړه، خبرې ئے هم اوکړې او بین السطور ئے تجاویز هم ورکړل او کوم چې د صوبائی حکومت په پارټ کومې خبرې وې، هغه هم هغوی پخپله باندې پوائنټ آؤټ کړې او کومې چې توجه طلب خبرې وې، هغې طرف ته هم توجه ورکړے شوه، په دې باندې مونږ د دوئ مشکور یو۔ په دې موقع باندې چې دا د بحث یو سلسله وه او تاسو پرون هم په دې باندې چیئر مهربانی کړې وه چې مونږ به د امن و امان په مسئله باندې ډیټیل بحث کوؤ، یقیناً د صوبائی حکومت Limitations، وسائل زمونږ او ستاسو د وړاندې دی، بیا بین الاقوامی حالات، فاټا، ستره سو کلو میټر زمونږ ډیورنډ لائن، بیا د هغې هغه حالات هم ستاسو د وړاندې دی، مونږ دا نه وایو چې ګنی هغه مونږ ته په وړاندې نه دی، دې وجې نه مولانا صاحب چې کومه خبره او بیا په تسلسل سره د واقعاتو، زه به دا اووایم چې یره د نیشنل ایکشن پلان په نتیجه کښې، د ضرب عضب په نتیجه کښې، زمونږ د پولیس د سیکیورټی او د نورو ادارو د الرټ کیدو په نتیجه کښې چې کومه Ratio راکمه شوې ده، آئے دن چې به کومې دهماکې کیدلې، هره ورځ د جمعې په ورځ باندې به چې کوم لاشونه اوچتیدل، په دې زه د الله شکر ادا کوم او مونږ ټول بحیثیت مجموعی چې یره د هغې په نتیجه کښې یو ډیر بهتر صورتحال هغې

طرف ته روان دے او دا واقعات چې پکښې اوشی نو لږ ډیر هغه حالات واقعی چې یو مشکل راپیدا کړی او د هغه مشکل حالاتو په وجه باندې یو پوزیشن لږ دغه طرف ته لاړ شی خو بیا هم په دیکښې یو خبره ضرور شته چې هغه که زما د میډیا ورونړه دی، که زما وکلاء برادری ده، که زما Even که د اپوزیشن د هرې پارټۍ د لیډرشپ او د هغې او یا سویلین یا زمونږه ځومره ایجنسیز چې دی، زه د هغوی مورال ته سلام پیش کوم، چرته هم په دې صوبه کښې ځوک هغه مایوسه شوے نه دے او هغه چرته هم هتهیار نه دی غورزولی او زه په دې حواله باندې جواب در جواب څه خبره هم نشته او بابک صاحب د اے این پی د پالیسئ خبره اوکړه، یا داسې نورې خبرې، په دې وخت کښې زمونږ موجوده مسئله هغه د یو بل سره د ډیبیټ نه ده، ستا خبره او زما خبره بحیثیت مجموعی د دې صوبې خبره ده، د دې صوبې د عوامو خبره ده، د دې صوبې د مستقبل خبره ده، د دې صوبې د کاروبار خبره ده، د دې صوبې د آئنده نسلونو خبره ده، د دې د هر بچی خبره ده، د هرې خور او د هرې مور خبره ده او مونږ ته پکار دا دی چې دا مونږ په خپل ځائې باندې توجه ورکړو او کله کله پولیټیکل بیانات راشی یا اخبارات، ډپټی سپیکر صاحبه، کله کله داسې جذبات وی د یو طرف نه، دا هم د هغوی د سنجیده مشرانو یا د پولیټیکل لیډرشپ یا د قیادت خبره نه وی بلکه دا چرته یو دغه راشی د دې خبرې، غرض مې دا دے چې دا مسئله یواځې د یو فرد نه ده، دا د یو پارټۍ نه ده، دا د یو قوم نه ده، دا د یوې علاقې نه ده، دا د یو نسل نه ده، بلکه دا خبره زمونږ بحیثیت مجموعی او د دې صوبې د عوامو ده او یواځې د پښتون قوم هم نه ده، که مونږ دا اووایو که دیکښې زمونږ سره هزارې وال دی، او که سرائیکی دی او که ځومره ملګری دی، یعنی هغه هم په دیکښې Affect کیږی۔ مونږ دا هم نه وایو چې هغه زمونږ نه بهر دی، دې وجه نه مونږ دا مسئله خپله مسئله ګڼړو او که زه تاسو ته هغه فګرز ډیر په ډیټیل ته لاړ هم نشم خو دومره به ضرور اووایم چې یره په هغې کښې ځومره کمے راغلے دے یا ځومره پکښې Decline راغلے دے او دا چې یره مونږ په دې وخت کښې چې کوم د ټول سیکیورټی ایجنسیز، د هغې مونږ یو ډیر مضبوط نیټ ورک جوړ کړے دے او هغې د پاره مو کمیټیانې جوړې کړې دی او هغه کمیټۍ د ډویژنل سطح باندې په

ضلعی سطح باندې او هغوی هره ورځ Update یو بل خبروی چې یره په کوم ځائې کښې څه حالات دی؟ نو دې وجه نه یعنی زه که هغه زمونږ د سی ټی ډی، یا د پولیس یا د ملیشا یا د فوج، یا د هغوی چې کومې ایجنسئی په خپل خپل ځائې باندې کار کوی، یعنی هغوی د دې نه خپله توجه نه ده هټاؤ کړې، زه دوئ د پاره دا خبره د دې کومه چې زه دوئ ته اطمینان ورکومه چې په دې حالاتو کښې چرته هم حکومت دا خپله مسئله ګرځولې ده، دا ئے خپله مسئله Own کړې ده او د دې د پاره Day and night هغوی لګیا دی او هغه خپل کوشش کوی۔ دوئ د حاجی حلیم خان صاحب خبره اوکړه، مونږ ټول د هغه په غم کښې هم شریک یو خو د هغې نه فوراً پس زمونږ وزیر اعلیٰ صاحب او د افغان سفیر هغه ئے راغوښتلے دے او هغوی سره ئے د انجمن تاجران او یو ډیر لوئې ډیټیل ډسکشن سره، د حلیم صاحب بچی هم دې میټنګ کښې راغوښتلی وو او بیا د حاجی حلیم بچی هغوی اسلام آباد ته هم، یعنی په دیکښې چې دا حکومت د هغوی د دې غم نه بهر نه دے، د دوئ په دې غم کښې د زړه د اخلاصه شریک هم دی او دا خبره خو ټهیک هم ده که دلته بزنس خرابیږی، که دلته زما انوسټرز د دې ځائې نه ځی یا زما هغه خلق چې هغه دلته Discourage کیږی نو ظاهره خبره ده چې د دې صوبې په معیشت باندې به څومره خراب اثر غورځیږی؟ دې وجې نه مونږ هغوی ته د سیکیورټی، د تعلیمی ادارو خبره ئے اوکړه او دا ټهیک خبره ده یعنی څه خو به مونږ Ground reality ته هم راځو چې زما د تعلیمی ادارو د سکولونو د کالجونو او د تعلیمی انسټیټیوشنز د هغې څومره تعداد دے، بل طرف ته زما د صوبې څه پوزیشن دے، نو هغه چې مونږ په هغې خبره کوؤ چې یو یو سپاهی هم رسی، دی وجې نه دا د یو Awareness په بنیاد د سلطان محمد صاحب توجه مې دې طرف ته راګرځوله چې دا خبره نه ده، دا صرف د Awareness د پاره چې تعلیمی ادارو کښې د هغې پرنسپل، د هغې پروفیسرز چې هغه الرټ وی او د خپل سیکیورټی ګارډز او د هغې پراپر ټریننګ او د هغې پراپر تربیت یو Awareness په بنیاد Otherwise دا خبره د دوئ ټهیک ده چرته هم Negligence is some thing else چې هغه Negligence چرته اوشی یا څه خبره اوشی خو د هغې ایف آئی آر یا د هغوی خلاف داسې قطعاً دا خبره نشته او

که دا په غلط فهمئ موجود وی نو داسې څه خبره باندې د حکومت پالیسی دا نه ده چې یو ځائې کښې داسې Incident کیږی، هس د هغې ما خو تاسو ته اووئیل چې د Negligence د هغه نه پوچھ ګچھ کیدے شی یا د هغه توجه راګرځولې کیدې شی خو داسې خبره به نه وی ځکه خو مونږ په War on Terror کښې د ون پرسنټ چې مونږ ته مرکزی حکومت راکوی، مونږ د هغې مطالبه د درې فیصد کړې ده، درې فیصد د اضافې هم کړېده او دا په این ایف سی کښې هم کړې ده او دا د ECNEC په میټنګ کښې او مسلسل مونږ وایو په سی سی آئی کښې هم او زمونږ هم دغه یوه خبره ده چې کوم ځائې کښې مونږ ته موقع ملاویږی چې د مرکزی حکومت توجه مونږ دې ته رااوګرځوؤ چې دا صوبه خیبر پختونخوا چې ده، مونږ په فرنټ لائن باندې موجود یو، یعنی د ټیررازم شکار کیږی زما بچی، د ټیررازم شکار کیږی زما جماعت، زما مدرسه، زما اسمبلی، زما ممبر، زما وکیل، د دې وجې نه مونږ توجه د هغوی غواړو، زه د اپوزیشن مشکور یمه چې په هر وخت او په هر ټائم کښې دوئ سپورټ هم کړے دے او دوئ دا خبره په خپل ځائې باندې کړې هم ده، یعنی مرکز ته د صوبې په آواز باندې، زه د دوئ د دې خبرې سره اتفاق ساتم او د دې د پاره زه خپله باندې دوئ ته دا یقین دهانی ورکوم چې دا څومره پارلیمانی لیډرز دی، زه سی ایم صاحب ته به او حکومت ته به، دا به بالکل زمونږه Decision وی ان شاء اللّٰہ چې مونږ به د بجټ نه مخکښې د دوئ سره په دې نزدې وخت کښې، د بجټ خبره خو لا لرې ده، بجټ ته به ستاسو تجاویز راشی خو مونږ به دیکښې یو پارلیمانی جرګه به د دوئ راغواړو، کښینو او دوئ به خپله، دوئ د پولیس خبره اوکړه او دوئ ته چا ملګرو ګیله اوکړه او چا ورته سلام پیش کړو خو زه دا وایم چې هغه بالکل په مورچه کښې دی، یعنی هغه بالکل په دې وخت کښې هغوی Day night, round the clock هغوی لګیا دی او زمونږ په دې غم کښې هغه شریک دی، پخپله شهیدان کیږی، چې کومه سیکیورټی، داسې مسئله جوړه شوې ده نو چې په ګیټ ستا کوم سپاهی ولاړ دے، هغه ورله اول غیږه ورکړې ده، هیڅوک نه دے تبنتیدلے، دې وجې نه مونږ هغوی Demoralize کوؤ هم نه، هغوی Discourage

کوؤ هم نه، هغوی مونږه Appreciate کوؤ هم او هغوی ته سلام هم پیش کوؤ او دا مو خیال دے چې نور هم د دا خپل کار تیز کړی، هغه د حمزه بابا خبره:

زړه ته جنازه د یاد د مه راوړه ارمانه

خلق ادیرې د کوره لرې جوړوی

څه غمونه چې دا څه اوشو، هغه خو اوشو خو Next د پاره چې مونږ ملاتړ یو، زمونږ خبره یوه وی، مونږ په یو Page یو، مونږ Update یو، حکومت او دوئ، نن ته هلته ناست ئې، زه دلته ناست یم، سبا به ته دلته ناست ئې او زما ملګرې به هلته ناست وی، دا هیڅ خبره نه ده، په دې وجه دا زمونږ د هاؤس خبره، د دې هاؤس نه مونږ دا پیغام لیږل غواړو چې د صوبه خیبر پختونخوا دې هاؤس ته چې دا 124 ممبران دلته راغلی دی او څه لږ کم اضافی، تین چار به غیرحاضر وی او نور خو په لسټ باندې موجود دی، څوک وفات شو، اکبر حیات خان شهید شو، دغه شان نور وفات شو رانه خو چې دا کوم دی، زمونږ یوه خبره ده، زمونږ یو غم دے، زمونږ یو پیغام دے، زمونږ یوه خبره ده او هیڅ د دوئ دا خبره زمونږ د پاره د تنقید خبره نه ده، زمونږ دا جواب هیڅ د دوئ د پاره څه جواب درجواب نه دے خو دوئ ته دا یو خبره ضرور کوؤ چې یره حکومت د صوبې هغه خپلې ذمه دارئ باندې، پخپله باندې د ادا کولو او په هغې کښې ستاسو نه د Input د اخستو، د هغې بهرپور مشکور به هم وی او توجه به هم دې خبرې ته ورکوؤ او مونږ به دا کوشش کوؤ چې چرته هم زمونږ نه داسې څه دغه نه شی، څه خبرې به داسې وی چې هغه به زمونږ په دغه کښې رانشی،May be زما دا یقین دے چې کله مونږ دغه پارلیمانی پارټۍ، د دوئ لیډرز شپ او موجوده حکومت پلس آئی جی پی صاحب او هوم سیکرټری صاحب او Law enforcement زمونږ چې څومره ایجنسئ دی، دا مونږه کښینو شاید چې د دې ښه بهتر حل د پاره نور هم یو قدم به مونږ لاړ شو او دا زما دوئ ته یقین دهانی ده چې د دې د پاره به مونږ ډیر زر ان شاء الله او مونږ کوشش کوؤ چې یره په هر لحاظ باندې مونږ دغه باؤنډری چې کوم ده، د هغې د Seal کولو، زه چونکه ټائم بالکل کم دے او د دې ټائم کم په وجه باندې اګرچې دوئ ډیر ښه Input ورکړے دے، ما که د یو یو جواب دې وخت کښې اونکړے شو نو It does not mean چې مونږ هغه Neglect کړے دے

یا مونږه Ignore کړے دے بلکه هغه مونږ د زړه په سر باندې لیکلے دے او هغه مونږ واخستو د ځان سره او ان شاء الله هغه به مونږ بیا هم د تاسو سره شیئر کوؤ، بیا به ئے هم شیئر کوؤ، الله د ماله او تاسو له د عمل توفیق را کړی چې زمونږ په موجودګئ کښې د صوبه خیبرپختونخوا چې دا د پښتنو او د دا د مینې او محبت یو ګهواره وه او ګهواره د الله تعالیٰ کړی او چې آئنده نسلونو ته مونږ یو ښکلے پاکستان، یو بهترینه صوبه او یو بهترین لاره ورته پریږدو۔ شکریه، میډم سپیکر صاحب۔

محترمہ ڈپٹی سپیکر: تھینک یو، مظفر سید صاحب۔ٹائم نماز کیلئے بہت کم ہے۔

Mushtaq Ghani Sahib, do you want to add some thing?

جناب مشتاق احمد غنی (مشیر برائے اعلیٰ تعلیم): Yes, just a few minutes. Thank you very much Madam Speaker.۔میں صرف یہ کہنا چاہوں گا کہ میں توقع کر رہا تھا اپوزیشن سے کہ وہ کچھ امریکہ کی بھی بات کریں گے، کچھ افغانستان کی بھی، کچھ ہندوستان کی بھی کیونکہ یہ دہشتگردی جہاں سے ہو رہی ہے ہمارے صوبے کے اندر اور ہمارے لوگ وہاں پر چھپے ہوئے ہیں تو اس میں تو امریکہ سے بھی پوچھنا چاہیے کہ وہ وہاں پر کیا قابلی پلاؤ کھانے گئے ہوئے ہیں یا دہشتگردی کی جنگ ختم کرنے کیلئے وہاں افغانستان میں بیٹھے ہیں؟ اور پھر افغانستان کی سرحد ہمارے خلاف استعمال ہو رہی ہے تو افغانستان کی بھی ذمہ داری ہے اور ہم یہ بھی جانتے ہیں کہ ہندوستان کے قونصلیٹ جو ہیں پاکستان کے خلاف کام کر رہے ہیں لیکن ان کا کوئی ذکر کرنا شاید مناسب نہیں سمجھا گیا لیکن میں آپ کی وساطت سے بابک صاحب سے یہ ضرور عرض کروں گا کہ اب وہ دور نہیں ہے، صوبے میں اس طرح کے حالات نہیں ہیں، یہ ضرب عضب کے کچھ Impacts ضرور آرہے ہیں لیکن پچھلے ڈھائی سال آپ دیکھیں تو اللہ کے فضل سے بہت امن سے گزرے، اکادکا واقعات ضرور ہوتے رہے، آپ کے دور میں تو آپ کی اپنی لیڈر شپ نے یہ صوبہ چھوڑ دیا تھا اور وہ تو چارسدہ بھی نہیں آسکتے تھے پشاور تو دور کی بات لیکن گورنمنٹ آپ کی تھی، آج ہماری گورنمنٹ میں اللہ کا شکر ہے کہ وہ آسانی سے سارے لوگ آتے جاتے ہیں، صوبے کے اندر اور حالات وہ نہیں ہیں جو آج سے بہت پہلے تھے اور جس پولیس کو ہم Criticize کر رہے ہیں کہ ہم نے غیر سیاسی کیا ہے، میں آپ سے صرف دو چار فگرز شیئر کرتا ہوں، جب سے نیشنل ایکشن پلان بنا ہے اور فوج ہمارے ساتھ بالکل تعاون

میں ہے، ہم نے ابھی تک ایک دوسرے کے ساتھ مل کر 18 ہزار279 سرچ اینڈ سٹرائیک آپریشنز کئے ہیں، ہم یہی کر سکتے ہیں کہ مجرموں کو تلاش کریں کہ کہاں پر وہ چھپے ہوئے ہیں تو 18 ہزار ہم نے آپریشنز کئے ہیں اس سال میں اور 62 ہزار لوگ ہم نے Detain کئے ہیں اور 18 ہزار سے زائد ہم نے گنز اور ایمونیشن جو ہے، وہ Recover کیا اور چھ لاکھ سے زیادہ جو یہ ایمونیشن ہے، وہ ہم نے Recover کیا۔ کچھ 1183 kg ہم نے Explosives ان سے برآمد کیا، کوئی چار لاکھ سے زیادہ ہم نے ہاؤسز کو چیک کیا اور اس میں ایف آئی آرز 12 ہزار 980 کے قریب ہم نے کاٹی ہیں، کوئی ایک لاکھ 89 ہزار سے زائد ہم نے ہوٹلز چیک کئے اور 2191 ایف آئی آرز اس میں درج ہوئیں، تو یہ کام کیا جا رہا ہے، اس صوبے میں لاء اینڈ آرڈر کو ٹھیک کرنے کیلئے پولیس اور باقی ادارے مل کر کر رہے ہیں، ہم نے Snap checking کی، Snap checking میں کوئی ایک لاکھ 25 ہزار کے قریب ہم نے Suspects detain کئے، کوئی 24 ہزار سے زائد ہم نے افغانوں کو چیک کیا جن میں سے 12 ہزار 700 کے خلاف ایف آئی آرز درج ہوئیں۔ اس میں کوئی 3 لاکھ سے Above سکولز چیک ہوئے، کوئی 15 ہزار 300 سے زائد سکولوں کو ایڈوائس جاری کی گئی، چھ ہزار 537 ایف آئی آرز اس میں درج ہوئیں، 21 ہزار سے زائد بس اڈے چیک کئے، کوئی ایک لاکھ سے زائد Other vulnerable places ہیں چیک کی گئیں، تو یہ سارا کام وہ پولیس کر رہی ہے آپ کے صوبے کے اندر جس کے اوپر افغان مہاجرین کا بھی بوجھ ہے، وہ بھی وہ ہی دیکھ رہی ہے، جس کے اوپر آئی ڈی پیز کا بھی بوجھ ہے اس کو بھی وہ ہی دیکھ رہی ہے اور یہی پولیس آپ کے تھانہ کچہری اور War against terror بھی لڑ رہی ہے۔ میڈم سپیکر! (تالیاں) ہمیں حقیقت کا سامنا کرنا چاہیے، یہ ہم سب کا ملک ہے، ہم ادھر بیٹھے ہوں یا ادھر بیٹھے ہوں، ہم تقریریں تو کر رہے ہیں لیکن ساتھ ہی کوئی تجاویز بھی تو دے دیں کہ اس عفریت سے، گورنمنٹ کی تو Determination ہے، کمٹمنٹ ہے، جیسے ہم نے پولیس کو اپنے لئے استعمال نہیں کیا، اس قوم کیلئے استعمال کر رہے ہیں، اس کو تب ہم نے De politicize کیا ہے اور جب De politicize کیا تو پولیس کی Efficiency بڑھانے کیلئے ہم نے پولیس سکول آف انوسٹی گیشن، پولیس سکول آف ایکسپلوسیو ہینڈلنگ، پولیس سکول آف انٹیلیجنٹس، پولیس سکول آف آئی ٹی، یہ ہم نے قائم کئے تا کہ پولیس کو عصر حاضر کے تقاضوں سے ہم آہنگ ٹریننگ دی

جا سکے، ماضی کی وہ پولیس نہ رہے کہ جو صرف ایم پی ایز یا ایم این ایز یا منسٹروں کے آگے ہاتھ باندھ کے کھڑی رہی بلکہ اس کو ہم ایک فورس کے طور پر Develop کر رہے ہیں اور یہی فورس جو ہے آج ہماری حفاظت کیلئے اپنی جانوں کی قربانی دے رہی ہے اور آپ شبقدر کا واقعہ دیکھیں، سب سے پہلے جو شہید ہو رہا ہے وہ پولیس کا سپاہی وہاں پر ہو رہا ہے۔ تو میں یہ سمجھتا ہوں کہ حکومت اور اپوزیشن ہم سب کا ایک ایشو ہے، ہم سب کا یہ ملک ہے اور دشمن ہمارا چھپا ہوا ہے، آپ سو کیمرے لگا لیں، سو راستے بند کر لیں، میں نے اس دن بھی ایک 'ٹاک شو' میں کہا کہ جب تک ہم چاروں صوبے اور مرکزی حکومت، مرکزی حکومت نے تو ہمیں بالکل سائڈ پر چھوڑا ہوا ہے، ایف سی کا ہم بار بار مطالبہ کیوں کرتے ہیں کہ وہ دے؟ تا کہ اس بارڈر کو ہم چیک کر سکیں کہ اتنا Easily accessible کسی دہشتگرد کیلئے نہ ہو۔ سی ایم صاحب نے کہا کہ اگر ایف سی نہیں دے سکتے تو پھر ہمیں رینجرز دے دیں، رینجرز ہم نے صوبے کیلئے نہیں مانگے، ہم نے فاٹا کی اس باؤنڈری لائن کیلئے مانگے ہیں تا کہ اس کو ہم دہشتگردوں کو آنے سے روک سکیں، ان کو کوئی چیک کر سکے کیونکہ ہماری پولیس کو تو وہاں پر رسائی حاصل نہیں ہے۔ تو میڈم سپیکر! Will کی ضرورت ہے، فیڈرل گورنمنٹ کو ہمارے ساتھ بیٹھنا ہو گا، یہ ایک غریب صوبہ ہے، اس کے اتنے زیادہ وسائل نہیں ہیں کہ ہم جدید ترین ٹیکنالوجی اسی بجٹ کے اندر لے آئیں، ہاں ہمارے اپنے پیسے دے دیں، ہم پھر بھی یہ کر سکتے ہیں، جو ہمارے بقایاجات ہیں، اللہ کرے ہمیں توقع ہے کہ وہ دیں گے لیکن جلدی دے دیں، ہم مزید پولیس کو جدید چیزوں سے Equipped کرنا چاہتے ہیں۔ ہم سے پہلے تو پورے صوبے میں ایک دو BDSs تھے، بم ڈسپوزل یونٹ، آج ہم نے ہر ضلع میں بیس بیس افراد پر مشتمل قائم کر دیئے ہیں، کیا یہ ہماری پرفارمنس نہیں تھی؟ آج ہمارا Explosive Handling کا جو سکول ہے، آپ جائیں اس میں وزٹ کریں، پشاور میں دیکھیں ہم نے روبوٹس منگوائے ہیں، پہلے خود ہمارے پولیس کے لوگ جا کر اس کو Defuse کرتے تھے، کسی بھی ڈیوائس کو، آج ہمارے روبوٹس جا کر اس کو Defuse کر رہے ہیں تا کہ ہمارے جوانوں کی زندگیاں بچ سکیں۔ تو حکومت، پولیس، ہم سب بھرپور کوشش کر رہے ہیں کہ یہ جو لاء اینڈ آرڈر ہے، اور جیسے مظفر سید صاحب نے کہا پہلے کی نسبت کرائمز میں، جرائم میں، اغواء برائے تاوان میں بہت Visible کمی آئی ہے لیکن المیہ ہمارا یہ افغانستان کا بارڈر ہے۔ حلیم جان صاحب کی آپ نے مثال دی، ان کو سیکورٹی

گورنمنٹ نےProvideکی ہوئی تھی لیکن اس کے باوجود انہوں نےManageکر لیا اور جتنی بھی کالیں آتی ہیں، ساری افغانستان کی سمز سے آتی ہیں۔ چیف منسٹر صاحب نے افغانستان کے ایمبسڈر کے ساتھ میٹنگ کر کے اس کو کہا کہ یہ آپ خدا کیلئے اپنی سرحد کے اوپر یہ جو ٹاور ہے، اس کو بند کروادیں تاکہ آپ کے سنگلز نہ آئیں یہاں پر اور کچھ اس میں کمی واقعہ ہو سکے لیکن ابھی تک اس پر بھی کوئی کام نہیں ہوا، لیکن کام تب ہوگا میڈم سپیکر! جب وفاقی حکومت اس میں سنجیدگی کا مظاہرہ کرے گی اور ہم سب کو ساتھ لے کے چلے گی اور ہم اپوزیشن سے بھی یہ درخواست کریں گے کہ آپ ٹائم مقرر کریں، ہم مقرر کرتے ہیں، ہم بیٹھ جاتے ہیں، بیٹھ کے ہم ایک دوسرے سےViews exchangeکرتے ہیں کہ ہم کس طریقے سے اس دہشتگردی کا مل کر مقابلہ کر سکتے ہیں؟ یہ ہم سب کا مسئلہ ہے اور یہ جو لاشیں ہم اٹھاتے ہیں، آپ ہی نہیں، ہم سارے روز اٹھا رہے ہیں، ہم نے اس کا سدباب کرنا ہے کہ ہم اس خفیہ دشمن کو، Hidden enemy کو ہم کیسے اس سے اپنے صوبے کوProtectکر سکتے ہیں؟ تھینک یو ویری مچ، میڈم۔

Madam Deputy Speaker: Thank you, Mushtaq Sahib. The sitting is adjourned till Friday, 25th March 2016, 03:00 pm. Thank you.

(اجلاس بروز جمعة المبارک مورخہ 25مارچ2016ء بعداز دوپہر تین بجے تک کیلئے ملتوی ہو گیا)